محب‌الله زغم
۲۰۲۳/۰۷/۰۵

# د خصوصي ښوونځيو درې مهمې ستونزې

زموږ خصوصي مکتبونه درې عمده ځانګړنې او نیمګړتیاوې لري: د اکسفورډ ځینې ناکاره کتابونه، بې تجربې او کم عمره استادان، د دیني علومو د تدریس لپاره له مدرسې فارغ شوي استادان.

په اکثره خصوصي ښوونځیو کې د معارف د نصاب تر څنګ د آکسفورډ کتابونه هم تدریسیږي. دا هغه کتابونه دي چې د پاکستان خصوصي ښوونځي یې خپلو شاګردانو ته چاپوي او زموږ وال یې له پاکستانه راوړي. پاکستان خپلو شرایطو ته په پام سره په دې کتابونو کې ځینې شیان بدل کړي دي مثلاً د ځایونو او اشخاصو نومونه. «سارا خان» به په پاکستان کې د مېرمنو لپاره معمول نوم وي خو په افغانستان کې خان یوازې نارینه وو ته استعمالیږي. له دې ورو خبرو چې ورتېر شو، د آکسفورډ کتابونه دغه ښېګڼې او بد ګڼې لري:

په ابتدایه دوره کې معمولاً پنځه انګلیسي کتابونه تدریسیږي: ساینس، ریاضي، کمپیوټر، ترانې (rhymes)، او د انګلیسي ژبې کتاب.

د ساینس خورا په زړه پورې کتابونه دي. د انسان د بدن، د ژوندیو موجوداتو، د طبیعت او ټکنالوژۍ په اړه لنډ، خوندور، ګټور معلومات په کې راغلي دي. په دې کتابونو کې د تبعیض د ختمولو پټه هڅه هم شوې ده، مثلاً یوځای د انسانانو په باره کې لیکي: «موږ انسانان په ظاهره کې سره متفاوت ښکاریږو، رنګونه مو سره بېل دي، یو وړوکی یو او بل غټ، یو سپین یو او بل تور، څوک ډنګر دي څوک چاغ، ځینې نارینه او هلکان دي ځینې مېرمنې او نجونې؛ خو د ټولو بدنونه یو شان کار کوي.» دا هغه پیغام دی چې که موږ غواړو راتلونکی نسل مو له خپلو هېوادوالو او له نړیوالو سره په سوله کې ژوند وکړي، موږ خپل هدف ته رسوي.

ریاضي کتاب یې همدا ابتدایي ریاضیات دي چې په انګلیسي لیکل شوي دي؛ خو زه ګومان نه کوم چې زموږ د ښوونځیو په استادانو کې دې داسې څوک وي چې د کتاب پر اصطلاحاتو او د تدریس په طریقه یې پوه شي. زموږ استادان معمولاً یوازې د دې کتاب سوالونه په شاګردانو حل کوي او بس.

کمپیوټر هغه مضمون دی چې تر ډېره د کمپیوټر د جوړېدلو بهیر، ساختمان او د کمپیوټر د ډولونو په اړه او هم په دې باب چې کمپیوټر کوم کوم کارونه کوي، معلومات رانغاړي. په ابتدایه دوره کې د کمپیوټر په کتاب کې ډېر کم داسې څه شته چې عملي استفاده دې ځنې وشي.

د ترانو کتاب موزوني قافیه والې ترانې لري چې ځینې ماشومان یې له یاده زده کوي او د لین په سر یې وایي. خو دغه ترانې د هغو ماشومانو لپاره لیکل شوي دي چې مورنۍ ژبه یې انګلیسي ده. په ترانو کې داسې محاوروي لغتونه شته چې نه یې ښوونکي په معنا پوهېږي او نه یې په ډکشنریو کې پیدا کولی شو. لکه موږ چې یو انګرېز ماشوم ته «اکوبکو» وښییو، غریب که هر څه پسې وګرځي په ډکشنریو کې به ترپکو، سرسیندکو ... پیدا نه کړي.

د انګلیسي ژبې کتاب هم د همدې ژبې ویونکو ماشومانو ته لیکل شوی دی. سره له دې چې زده کول یې ګران نه دي خو زموږ د ماشومانو ذوق، د پوهې کچه او اړتیا ته په کې پام نه دی شوی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

د پوهنې وزارت څو ځله خبرداری ورکړی چې خصوصي ښوونځي دې تر شپږم ټولګي پورې کولی شي یوازې د انګلیسي ژبې مضمون د آکسفورډ له پروګرامه واخلي، نور انګلیسي مضمونونه دې نه تدریسوي. خو تر اوسه پورې چا یې په خبره غوږ نه دی ګرولی.

زما په نظر د پوهنې وزارت فرمان بیا غور ته ضرورت لري. د آکسفورډ په کتابونو کې ساینس او کمپیوټر په دې ارزي چې تدریس شي. ریاضي او د ترانو کتاب یې ګټور نه برېښي او انګلیسي کتاب یې بد نه دی. خصوصي ښوونځي باید د انګلیسي ژبې کتابونه پخپله تألیف کړي، په دې کتابونو کې دې اول هاغه کلمې راوړي چې زموږ په ژبو کې او په انګلیسي کې یو شان یا سره ورته دي مثلاً glass= ګېلاس، radio=رادیو . د ځایونو او اشخاصو نومونه دې په کې افغاني وي. د هغو شیانو په باب دې خبرې په کې راشي چې زموږ ماشوم یې په خپل چاپېریال کې ویني او ورسره آشنا دي.

دوهمه ستونزه د کم عمره استادانو ده. په اکثره خصوصي ښوونځیو کې د دولسم ټولګي فارغان یا څوارلسم پاسه استادان درس ورکوي چې د پیداګوژۍ له اصولو سره چنداني بلد نه دي او کافي تجربه نه لري. زما یوه ملګري خپل زوی د دولتي مکتب له دریم صنفه یوه خصوصي ښوونځي ته بدل کړ. ده ته دغه پنځه واړه انګلیسي کتابونه بیخي نوي وو، دی په نورو کتابونو کې ښه تکړه و خو دومره ډېر نوي انګلیسي شیان یې په اوله اوونۍ کې نه شو زده کولی. استاد به هر ورځ سپکاوه او وېراوه به یې چې که دا شیان زده نه کړې نو «ده ګژدم خانه میاندازم ات» هغه خوارکی په کور کې ژړل چې زه نور مکتب ته نه ځم.

خصوصي ښوونځیو بل کار دا کړی چې د دیني علومو او قرانکریم د تدریس لپاره یې له مدرسو فارغ شوي کسان ګومارلي دي. دا استادان په دینیاتو پوهېږي خو په پیداګوژي نه. دوی د اول او دوهم ټولګي شاګردانو ته وظیفه ورکوي چې د الله په باره کې دې مقاله ولیکي. د نصاب له رسمي کتابونو ورهاخوا ځینې نور انتزاعي مفاهیم په شاګردانو باندې زده کوي چې هغه فلسفي بحث غواړي. دغه استادان چې پخپله په مدرسو کې وهل شوي، ډبول شوي دي، دلته هم شاګردان وهي ټکوي.

د پوهنې وزارت باید دغو ستونزو ته پام وکړي. د ډاکتر نجیب الله د واکمنۍ تر ختمېدو پورې به د ښوونځیو ښوونکو ته په ژمي کې سیمینارونه جوړېدل خو اوس یې خبر نشته. انسان هېرجن او لټ دی، که انګېزه، محرک یا فشار ورباندې نه وي، درس نه وایي او کار نه کوي. استادان خپل درسونه، د تدریس اصول، ارواپوهنه او نور ضروري معلومات هېروي، که په ژمنیو رخصتیو کې ورته کورسونه او ورکشاپونه جوړ شي، معلومات به یې راتازه شي. د خصوصي ښوونځیو استادانو ته خو دا ورکشاپونه لا زیات ضرور دي ځکه چې اکثره استادان یې کم تجربې او بې تجربې دي. د آکسفورډ د کتابونو په برخه کې هم که جدي کنټرول نه وي، په تشه وینا باندې یې چاره نه کېږي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ